

# شپږ اړخیز دهلېز د ټرانسپورټي او سوداګریزو اړیکو نوی پړاو


**امام‌الدین احمدي**

(د عامه اطلاعاتو او نشراتو رئیس)


په دې وروستیو کلونو کې، د سیمې ځینو هېوادونو دې ته لیوالتیا څرګنده کړه، چې د شپږو هېوادونو تر منځ یو ګډ ځمکنی ټرانسپورټي دهلېز رامنځته کړي، د دې دهلېز لومړی وړاندیز د ازبکستان لخوا وشو، چې له دې څخه یې په ټولیز ډول موخه دا وه، چې د څنګلورو هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو تر څنګ د افغانستان له لارې د پاکستان کراچۍ بندر په واسطه ګرمو اوبو ته ځان ورسوي، چې په دې طرحه کې شپږ هېوادونه: بېلاروس، روسیه، قزاقستان، ازبکستان، افغانستان او پاکستان شامل دي. که څه هم د دې دهلېز رامنځته کول په لومړني پړاو کې دي؛ خو له یو کال راپه دې خوا پرې خبرې روانې دي او ازبکستاني پلاوي څو ځله افغانستان ته سفر ترسره کړ او همدا رنګه د افغانستان د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت سرپرست محترم الحاج ملا حمیدالله اخندزاده او ورسره مل پلاوي ازبکستان هېواد ته سفر ترسره کړ او هلته یې په شپږ اړخیزه غونډه کې، چې د یادو هېوادونو استازو پکې برخه درلوده ګډون وکړ او د یاد دهلېز په تړاو هر اړخیزې خبرې وشوې او ازبکستاني پلاوي هم د خپل سفر په ترڅ کې د افغانستان له لویو لارو او بندرونو څخه لیدنه وکړه. د شپږ اړخیز دهلېز هوکړه تر دې دمه څلورو هېوادونو (بېلاروس، روسیې، قزاقستان او ازبکستان) لاسلیک کړې ده، پاکستان هم ورته لېوالتیا ښودلې ده، افغانستان به هم له خپلو داخلي ارزونو وروسته په دې دهلېز کې د ګډون پرېکړه وکړي او له دې وروسته به په عملي ډول پرې کار پیل شي. تر دې دمه د دې دهلېز پر عمومیاتو باندې بحثونه شوي دي، پر تخنیکي مسائلو به یې د ټولو هېوادونو د هوکړې تر لاسلیک وروسته خبرې وشي.

## جیوپولیټیک اهمیت:

افغانستان د اسیا په زړه کې یو مهم جیوپولیټیکي موقعیت لري، چې د مرکزي او جنوبي اسیا لپاره ستراتیژیک ارزښت لري. دا هېواد د مرکزي اسیا هېوادونو لپاره د سمندر سره د نښلونې تر ټولو لنډه او اسانه لاره ګڼل کېږي؛ نو له همدې کبله د شپږ اړخیز دهلېز رامنځته کېدل به د افغانستان د ټرانسپورټي سکتور لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي.

د دې تر څنګ به په هېواد کې د اقتصادي پرمختګ او امنیت د ټینګښت لپاره هم خورا مهم اغېز ولري.

افغانستان نه یوازې د جغرافیوي موقعیت له مخې مهم دی، بلکې د دې هېواد معدني زیرمې، طبیعي منابع، او د انرژۍ سرچینې هم نړیوال د ځان پر لورې راکاږي، د سیمې لوی قدرتونه لکه چین، روسیه، هند او همدارنګه ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې د خپلو اقتصادي او ستراتیژیکو ګټو د خوندي کولو لپاره هڅې کوي، د افغانستان له لارې د ګازو او تیلو نل‌لیکې، ریل‌پټلۍ او ټرانزیت لارې د سیمې اقتصادي ودې ته مهمې دي او افغانستان هم غواړي چې په اقتصادي ډګر کې د نړیوالو پام ځان ته راواړوي او د ځان بساینې په پار د دوی له تجربو او پانګه‌اچونې څخه ګټه پورته کړي.

د افغانستان جیوپولیټیکي اهمیت نه یوازې چې اقتصادي او ستراتیژیکي ګټې لري؛ بلکې تر څنګ یې د نړیوال امنیت او سیاسي ثبات لپاره هم ډېر مهم دی.

د افغانستان امن او ثبات د سیمې او نړۍ لپاره حیاتي اهمیت لري، باثباته او پرمختللی افغانستان نه یوازې افغانانو ته؛ بلکې د سیمې هېوادونو ته ګټور بلل کېږي. باید هڅه وشي چې له شته فرصتونو څخه ښه ګټه پورته شي او افغانستان د سوېلي او مرکزي اسیا د وصل نقطه وګرځول شي، تر څو د دایمي اقتصادي او سیاسي ثبات څښتنان واوسو.

## اقتصادي، سوداګریزې او امنیتي ګټې:

افغانستان د اقتصادي، سوداګریزو او امنیتي ګټو له اړخه ځانګړی اهمیت لري، له افغانستان سره د پېنځو ملګرو هېوادونو سوداګریزې او اقتصادي ګټې به د دې لامل شي، چې په افغانستان کې د سړکونو جوړولو، رېل‌پټلۍ او ورسره اړوندو بنسټیزو کارونو ته پاملرنه زیاته او خدمتونه هم معیاري کړل شي، چې دا به نه یوازې د افغانستان د ټرانسپورټي زیربناوو پرمختګ کې مرسته وکړي؛ بلکې د دې هېواد اقتصادي وده به هم چټکه کړي. د یادو هېوادونو تر منځ به سوداګریزې، سیاسي، فرهنګي او اقتصادي اړیکې پیاوړې شي او د دې تر څنګ به د یادو هېوادونو تر منځ ښې اړیکې د افغانستان او سیمې هېوادونو تر منځ د متقابل باور او همکارۍ فضا رامنځته کړي.

د سوداګریزو اړیکو پیاوړتیا به د افغانستان د صادراتو او وارداتو په برخه کې مثبته اغېز ولري، چې په پایله کې به د افغانانو د ژوند په کیفیت کې هم د پام وړ ښه‌والی راشي.

د دې دهلېز پر جوړېدو سره به د یادو هېوادونو باروړونکې لارۍ د افغانستان له خاورې تېرېږي، د عبور حق به یې افغانستان ته ورکول کېږي، چې دا به د افغانستان لپاره د یوې نوې اقتصادي دورې پیل وي او د دې ترڅنګ به د افغاني ټرانسپورټي شرکتونو باروړونکي موټر یادو هېوادونو ته په اسانۍ سره سوداګریز توکي لېږدوي، د افغانستان کرنیز او نور صنعتي توکي به یادو ټولو هېوادونو ته لېږدول کېږي او دا چاره به نورو ورته ټرانسپورټي دهلېزونو ته لاره برابره کړي، چې په پایله کې به افغانستان د نړۍ له ډېرو هېوادونو سره نښلول شوی وي.

د شپږ اړخیز دهلېز طرحه د سیمې هېوادونو لپاره ستراتیژیک اهمیت لري، چې د افغانستان په ګډون به د مرکزي او سوېلي اسیا هېوادونو تر منځ ټرانسپورټي او اقتصادي اړیکې ټینګې کړي.

د دې لپاره اړینه ده چې د دې دهلېز د جوړېدو ګډې هڅې ګړندۍ شي او یاد شپږ هېوادونه د اوسپنې‌پټلۍ او د باروړونکو موټریزو کاروانونو په وسیله سره وتړل شي.